# امیر امان‌الله خان

امیر امان‌الله خان د افغانستان یو پیاوړی پاچا وو. تر ده د مخه د ده پلار چي امیر حبیب‌الله خان نومېدئ پاچا وو. کله چي د ده پلار مړ سو نو یوه ورځ وروسته امان‌الله خان په ۱۹۱۹ عیسوي کال کي چي د امیر حبیب الله خان دریم زوی وو پاچا سو.



پاچا امان‌الله لږ وروسته د افغانستان بشپړه آزادي اعلان کړه. د ۱۹۱۹ عیسوي کال د می پر پنځمه نېټه یې د انګریزانو پر پوستو باندي په درو جبهو کي حملې وکړې چي دغه نو د افغانستان او انګریزانو دریم جنګ دئ. د جنګ د ډېر شدت په نتیجه کي دواړو خواوو سوله سره وکړه.

امان‌الله خان د خپل نیکه امیر عبدالرحمان خان د سیاست په خلاف د خپل شمالي ګاونډي (روسیې) دوستۍ ته لاس واچاوه. په هیواد کي یې

ډېر اجتماعي او سياسي اصلاحات پيل کړه چي د يوې خوا د شوروي سره دوستي او دبلي خوا څخه د امان الله خان دغه ژر اصلاحات او د انګرېزانو پروپاګنده سبب سوه چي خلک دده په مخ کي و درېدل او ښورښونه يې وکړه. هغه وو چي د کابل چاري حبيب الله کلکاني ته چي د سقاو د زوی په نامه مشهور او يو غل وو په لاس ورغلې. او دا چي په هيواد کي د امان الله په مخ کي د انګريزانو د لاس وهنو په سبب نا آرامي راغله او پاچا امان الله نه غوښته چي انسانان دي ووژل سي نو پسله لسو کالو پاچاهۍ څخه د ۱۹۲۹ عيسوي کال د جنوري په مياشت کي د کندهار د لاري څخه د افغانستان څخه ووت او ايټالې ته يې ځان و رساوه او د ژوند تر آخره پوري هلته پاته سو.